# رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې اودس وکړ چې هر غړی يې يو يو ځل ومينځه

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې اودس وکړ چې هر غړی يې يو يو ځل ومينځه.

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

ځينې وختونه به چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم اودس کاوه نو د اودس هر غړی به يې يو يو ځل وينځه، نو مخ به يې ومينځه - چې پدې کې خوله او پوزه وينځل شامل دي - او لاسونه او پښې يو يو ځل، او - په اوداسه کې - همدا واجب اندازه ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65081